Deputy PM for Economic Affairs Office
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

# د افغانستان اقتصادي پرمختګ

## (خبرپاڼه)

دویم کال - لومړۍ ګڼه | پرلپسې ۱۵مه ګڼه

نېټه: ۱۴۰۴/۱/۷



په افغانستان کې هره اونۍ په بېلابېلو سکتورونو کې مهم اقتصادي فعالیتونه او پرمختګونه رامنځته کېږي او د افغانستان اقتصادي پرمختګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروستیو اقتصادي فعالیتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

### په دې ګڼه کې لولئ:

۱- د شبرغان- مزارشریف د ګازو نل‌لیکې د غځولو پروژې چارې وروستي پړاو ته رسېدلې

۲- د کابل ولایت ارغندی ترانسپورټي ترمینل د جوړېدو چارې پیل شوې

۳- کابل کې د نیله باغ استوګنیزې پروژې چارې ۲۵ سلنه بشپړې شوې

## د شبرغان- مزارشريف د ګازو نل‌ليکې د غځولو پروژې چارې وروستي پړاو ته رسېدلې



امارتي مسـوولين وايـي، له شـبرغان څخه مزارشريف تـه د ګازو نل‌ليکې د غځولو پروژې چارې وروسـتي پړاو ته رسېدلې دي. دا پروژه د کانونـو او پټروليم وزارت له مهمو پروژو څخه ده چې رغنيزې چارې يې وروستي پړاو کې دي او اوسمهال يې وروستی تخنيکي ازموينې ترسره کېږي. د شـبرغان ګاز به پـه مزارشريف کې د کيمياوي سرې او ښيښـې جوړولـو فابريکو ته ورکول شي او هم به د مزارشريف اوسېدونکي له يادې پروژې څخه ګټه واخلي.

د ګازو د دغه نل‌ليکې اوږدوالی ۹٤,۵ کيلومتره دی. د يادې پروژې نابشپړې شوې چارې د اسلامي امارت له لوري شاوخوا دوه کاله وړاندې پيل شوې. په ياده پروژه کې تقريبا اووه ميليونه افغانۍ لګښـت راغلی چې د اسلامي امارت له بوديجې ورکول کيږي.

د ګازو د لېږد دغه پروژه به په ۲٤ ساعتونو کې د شبرغان ۱,۵ ميليون متر مکعب ګاز مزارشريف ته ولېږدوي.

د هېواد شمال کې د طبيعي ګازو ډېرې زېرمې شته. اسلامي امارت د هېواد له طبيعي سرچينو څخه استفادې ته پاملرنه کړې او هڅه يې کړې چې د افغانسـتان طبيعي سرچينې د هېواد د اقتصـادي ودې په موخه اسـتخراج کړي. په همدې موخه پر نورو هڅو سربېره په ۱٤۰۳ کال کـې د يو ميليارد ډالرو په ارزښـت د فارياب د طوطي ميدان ګازو د اکتشاف او استخراج تړون د رياست الوزراء د اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې له يو بهرني شرکت سره لاسليک شو.

## د کابل ولايت ارغندی ترانسپورټي ترمينل د جوړېدو چارې پيل شوې



د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغنـي برادر اخوند د ۱٤۰٤ کال د وري په درېيمه نېټه د کابل ولايت ارغندی ترانسپورټي ترمينل د جوړېدو چارو پرانيسته وکړه.

د رياسـت الوزراء اقتصادي مرستيال د هېواد د ترانسپورټي زېربنا د پراختيا له پاره د دغه ترمينل جوړول مهـم وبلل او د ترانسـپورټي ترمينلونو جوړول او پراخول يې د هېواد د اقتصادي ودې، پرمختګ او کورني او سيمه‌ييز اتصال له پاره ډېر مهم او اساسي ګام ياد کړ.

په تېر کې په هېواد کې د ترانسـپورټ برخې ته توجه نه وه شوې، خو اسلامي امارت د هېواد د

اقتصـــادي ودې په موخه دغـــې برخې ته پوره پاملرنه وکړه. د ارغندۍ ترانســـپورټي ترمينل تر څنګ د هېواد په څينو ولايتونو کې هم د ورته ترمينلونو جوړېدل د اقتصادي معاونيت له لوري منظور شوي دي چې د ډېرو يې اوسمهال چارې روانې دي.



ترانســـپورټي ترمينلونه د هېواد د ســـوداګرۍ غوړېدو او اتصال له پاره ډېر مهم دي. اســـلامي امارت درک کړې چې دغه ترمينلونه کولی شي د هېـــواد ســـوداګريزې چـــارې او د هېـــواد ترانسپورټي سيستم لا چټک او منظم کړي. دغه راز، د ترانسپورټي ترمينلونو د عملي چارو په پيل او ګټې اخيستنې ته په سپارلو سره به هېوادوالو ته کاري فرصتونه برابر شي او د هېوادوالو د ډېر وخت ضايـــع کېدو او لګښـــتونو کچه به ورسره راکمه شي.

د ارغندۍ ترانسپورټي ترمينل په شاوخوا ۹۰۰ جريبه ځمکـــه جوړېږي او يو ميليـــارد او ۲۸۵ ميليونه افغانۍ لګښت پرې راځي چې چارې به يې د خصوصي سکټور له لوري په دوو کلونو کې بشپړې شي.

## کابل کې د نيله باغ استوګنيزې پروژې چارې ۲۵ سلنه بشپړې شوې

په کابـــل کې د نيله باغ اســـتوګنيزې پروژې د جوړولو چارې ۲۵ سلنه مخته تللې دي. امارتي مســـوولينو ويلي، د يادې پروژې پاتې چارې په چټکۍ روانې دي. د مسوولينو په وينا، پلي



کوونکي شرکـــت ډاډ ورکړی چې د پروژې ټولې چارې به په ۳۸ مياشتو کې بشپړوي او پروژه به د کور او ښار جوړولو وزارت ته سپاري.

د نيله باغ اســـتوګنيزې پروژې چـــارې يو کال وړاندې د رياســـت الوزراء اقتصادي مرســـتيال محـــترم ملا عبدالغنـــي برادر اخونـــد له لوري پرانيستل شـــوې. محترم ملا صاحب د نيله باغ استوګنيزې پروژې د چارو پيل د هېواد د ابادۍ او ښاري پراختيا له پاره مهم پرمختګ بللی و.

د نيله باغ استوګنيزې پروژې په ٥٦ بلاکونو کې ۱٤۰۰ اســـتوګنيز کورونـــه او نـــورې ودانـــۍ جوړېږي. ياده پروژه د چين ولسي جمهوريت په بلاعوضـــه مرســـته جوړېږي چې شـــاوخوا ۷۱ ميليون ډالر لګښت پرې کېږي.